# زېری

پښتنګلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۳ - ۴مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۳ - ۲۰۴مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳لمریز کال د غويي ۳۱مه ▣ ۱۴۳۵هـ ق کال د رجب المرجب ۲۱مه ▣ ۲۰۱۴ زیږدیز کال د مې ۲۱مه


فولکلور د عوامو خلکو، د یوه ملت یا یو قام او یا یو نژاد په نظر د حقایقو مجموعه ده، د دوی عنعنوي سرمایه ده او د ژوند او جهان په باب د دوی فکر و عقیده، معلومات، افکار او د دوی عمومي ذهنیت دی. د یوه ملیت یا ملت او یا د یوه هېواد په فولکلور کې د هغوی تېر ماضي او د موجوده او راتلونکي ژوند له پاره ارزښتونه پراته دي.

"د فولکلور تاریخچه/ حبیب الله جاج پښتون زوی"

ادبي بحثونه:

## په پښتو ادبیاتو کې د ادبي مطالعاتو بهیر

 څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

د نړۍ هره ژوندۍ ژبه خپل ادبیات او د هغو ادبیاتو د مطالعې ځانګړې شالید لري. پښتو هم د نړۍ د یوې ژوندۍ آریایي ژبې په توګه له خپلو ادبیاتو او د هغو له تاریخي پس منظر څخه برخمنه ده.

د پښتو ادب د موجودو او لاس ته راغلیو منظومو او منثورو بېلګو په استناد، زموږ د ادبي تاریخ لومړۍ دوره د ادبپوهانو د نوي تصنیف له مخې له دویم هجري، له امیر کروړ څخه پیل او د بایزید روښان تر زمانې پورې دوام مومي. دغه لومړۍ دوره چې (۱۳۹ -۹۵۰ هـ ق) زمانه راچاپېروي، موږ ډېر لږ منظوم او منثور آثار یا د هغو په اړه معلومات په لاس کې لرو. تر کومه چې خبره په پښتو ادب کې په ادبي مطالعاتو پورې اړه لري، لومړنی اثر چې د پټې خزانې لیکوال محمد هوتک یې موږ له شتون څخه خبروي او د هغه د ځرنګوالي په اړه معلومات راکوي، هغه "سالوو ږمه" ده، چې ابو محمد هاشم ابن الزید السرواني (۲۳۳ -۲۹۷ هـ ق) لیکلی و. د پټې خزانې لیکوال لیکي چې:

"نقل کا چې ابو محمد په پښتو یو کتاب کښلی و، چې په هغه کې یې د عربي اشعارو فصاحت او بلاغت بیان کړی و او نوم یې و، د سالوو ږمه" (۱)

دا کتاب تراوسه نه دی ترلاسه شوی، نو ځکه د ځرنګوالي په اړه یې څه نه شو ویلی، یوازې د محمد هوتک د ځرګندونو له مخې، دومره وایو چې کتاب پښتو او په نثر و او د عربي ژبې د ادب د فصاحت او بلاغت په اړه لیکل شوی و، نو یې په پښتو ژبه او ادب کې د ادبي مطالعاتو په اړه لومړنی اثر بولو او د خپلو ادبي مطالعاتو تاریخي بهیر له همدې درېیمې هجري پېړۍ څخه را پیلوو.

تردې وروسته بیا تر اوومې هجري پېړۍ د کوم لیکلي پښتو ادبي اثر ځرک نه وینو، ترڅو چې له ٦۱۲ هجري قمري کال څخه وروسته، سلیمان ماکو خپل اثر پښتو "تذکرة الاولیاء" لیکلی، چې څو پاڼې یې د زمانې له سېلیو خوندي پاتې او تر موږ رارسېدلې دي. دا ترلاسه شوې پاڼې لومړی په ۱۳۱۹لمریز کال کابل کالنۍ، بیا په ۱۳۲۰لمریز کال پښتانه شعراء لومړي ټوک او بیا وروسته تر ۱۳۷۹ لمریز کال پورې دوه ځله د ځانګړې رسالې په بڼه چاپ او خپرې شوې دي.

د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء په دغو موجودو څلورو پاڼو کې د پښتو د څلورو لرغونو شاعرانو: حضرت شیخ بیټ نیکه، شیخ اسماعیل، ملکیار غرشین او قطب الدین بختیار د شعرونو بېلګې او په نثر د هغوی لنډې ژوند پېښې راغلي، نو ځکه یې د پښتو په ادبي مطالعاتو کې شامل بولو او له سالو وږمې وروسته یې د پښتو لومړنی لاس ته راغلی ادبي اثر ګڼلی شو.

تردې وروسته بیا د پښتو ادبیاتو د تاریخ په دوهمه دوره کې، چې له بایزید روښان (۹۲٦ - ۹۸۵ هـ ق) څخه پیل او د دیارلسمې هجري قمري پېړۍ تر نیمایي پورې رارسېږي، موږ ډېر منظوم او مثور آثار لرو، چې هغه په ادبي مطالعاتو کې د یادونې او ستاینې وړ ځای لري.

په دې لړ کې، لومړی د بایزید روښان "خیرالبیان" او د اخون درویزه "مخزن الاسلام" نومونه د بېلګې په توګه اخلو، چې په پښتو ادبي مطالعاتو کې ځانګړی ځای لري.

د خوشحال خان خټک مشهور اثر "دستارنامه"، چې د هند د رنتبور د مغلو په زندان کې یې په ۱۰۷٦ هـ ق کال په پښتو نثر لیکلی، په ځانګړو علمي او ادبي بحثونو سربېره نور ادبي ارزښتونه هم لري، زموږ په ادبي مطالعاتو کې یې یادونه اړینه ده. همدارنګه په همدغه دوره کې د عبدالقادر خان خټک "ګلدسته"، چې د شیخ سعدي د ادبي اثر "ګلستان" آزاده پښتو ژباړه ده او په ۱۱۲۴ هجري قمري کال په خوږه ادبي ژبه ترسره شوې، د یو

درېیم مخ

# د نويو لغتونو اړتيا

څېړنوال مولاجان ټنيوال

دا يوه څرګنده خبره ده، چې د انسان ژوند په ځای نه دی ولاړ، په تحول او بدلون کې دی. د دې تلپاتي تحول اغېزه دومره پياوړې او قوي ده، چې د بشري کلتور ټول اړخونه يې تر خپل پېدل لاندې راوستي دي. ژبه هم يو داسې کلتوري ارزښت دی، چې په هېڅ صورت له دې دايرې څخه نه شي وتلای.

موږ دلته د کلتور له نورو برخو څخه تېرېږو، خو د ژبې په باره کې څکه څو ټکي وړاندې کوو، چې د دندې له مخې، د همدې ساحې (برخې) سره تړلي يو. ژبه يوه داسې پديده ده، چې له هماغه لومړي وخت څخه يې تراوسه پورې ډېر بدلونونه ليدلي او ډېر پړاوونه يې شاته پرېښودي دي. همدا بدلونونه او پړاوونه د ژبې د تاريخ اوږده لړۍ جوړوي.

که چېرې د ارخاييزم محتوا ته پام وکړو، دا ورڅخه څرګندېږي، چې له دې ورشو سره هغه ژبني توکي او عناصر تړاو لري، چې يو وخت د ژبې په بېلابېلو اړخونو کې کارېدل او هر يوه توکي يوه چاره ترسره کوله، خو د مختلفو عواملو په سبب له کارونې څخه ولوېدل او ځای يې نورو ژبنيو عناصرو ونيو. زه دلته د ژبنيو ارخاييکو موادو د اهميت په اړه څه نه وايم، خو دا امکان شته، چې په دې باره کې څېړنې وشي او هغه ډول لاملونه وښودل شي، چې په ژبه کې د ارخاييزم جريان ته لاره پرانېزي.

په همدې ډول، پورېزم هم داسې يوه عمليه ده، چې د يوې اړتيا له مخې پوهان ورته متوجه شوي دي. پورېزم په دې هڅه کې دی، چې يوه ژبه د نورو ژبو له اغېزو څخه تر هغه بريده پورې چې امکان يې وي، خوندي وساتي.

د دې لړۍ په پرمخ بېولو کې د دې امکان شته، چې نوي لغتونه جوړ او ډګر ته راووځي، دا يوه منلې خبره ده، چې انسان يو فعال موجود دی او تل په دې هڅه او لټه کې دی، چې د خپل ژوند د ښه والي او پرمختګ په خاطر نوي شيان او ابزار جوړ کړي، د دې په خوا کې دا دنده او مسووليت هم لري، چې جوړ کړي شيان ونوموي. موږ وړاندې نه ځو، خو که د خپل عمر پړاوونو ته وګورو، ډېر داسې نوي شيان به وګورو، چې تصور مو هم نه شو کولای. دا ټول نوي شيان په واقعيت کې نوي نومونه لري او همدا نوي نومونه په حقيقت کې نوي لغتونه دي، چې موږ له نويو شيانو او ابزارو سره آشنا کوي.

ترڅو پورې مو، چې د نويو لغتونو معناوې نه وي پېژندلې، شونې نه ده، چې يو نوی شی، محصول يا توليد، هغسې چې غواړو يې او اړتيا ورته لرو، په کار واچوو او په مشخصاتو او خصوصياتو باندې يې وپوهېږو. زموږ خپلې اړتياوې موږ دې ته هڅوي، چې د نويو لغتونو

دوهم مخ

# يوه پښتو يو پښتون

■ څېړندوی حبيب الله رفيع

پښتو، پښتون، پښتونولي او پښتونخوا څلور نومونه دي، چې څلور سره تړلې معناوې لري.

پښتو د دې خلکو د ژبې نوم دی، چې ټکي او نومونه يې درې نيم - څلور زره کاله وړاندې په ويدي سرودونو کې راغلي او خوندي شوي دي، په اوستايي دوره کې يې د سرودونو په محتوا کې ځای موندلی او بيا د بېستون، سره کوتل، رباطک او روزګان په ډبرليکونو کې کېندل شوي او خوندي شوي دي:

نې اړيکه وم
نې دروجنه وم
نې زوکړه وم

يعنې، نه د چا مانع وم، نه مې له چا سره دروه کوله او نه مې په چا زور کاوه، د بېستون د ډبرليک کرښې دي او الوښاد، يعنې اروابښاد او شاه ځوی د سره کوتل او روزګان د ډبرليکونو کلمې دي او که لټون وشي، نورې ډېرې ډبرې به هم پښتو راسره ووايي.

پښتون د يوه ملت نوم دی، چې د يوه کلتوري واحد په بڼه له بېلابېلو سره مېشتو قدمونو له پيوستون څخه جوړ شوی دی. پکت او پښت او ورسره اپاريتي (اپريدي)، اسپه زي (يوسفزي)، بريسا (بړېڅي)، ورديکا (وردګ) او نور د بېلابېلو قومونو نومونه دي، چې سره ګډ اوسېدل او په يوه پښتو سره تړلي وو او واحده کلتوري ټولنه يې جوړوله.

د اروابښاد علامه کهزاد په وينا، غرغښت، سړه بن، بيټني او سپين تمان زردښت يو ځای او په يوه وخت کې په بلخ کې اوسېدل، پنځېدل او زياتېدل او بالاخره د لويو او وړو لېږدېدنو له لارې په آريانا کې خورېدل او پر هندوکش تر را اوښتلو وروسته له آمو تر اټکه مېشتېدل.

درېيم مخ

# مور

◊ روشن لال ملهوتره

حضرت محمد صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "جنت د ميندو تر پښو لاندې ولټوئ". بودا، مور "د نوي قدس" په نامه ياده کړې او يو بل پوه او متفکر سمايلز وايي: "کله چې مور فاسده شي، نسل هم فاسدېږي".

په دنيا کې د مور مقام له ټولو څخه لوړ دی، له مينې، مهربانۍ او شفقت څخه ډکه د مور غېږ يعنې زانګو هغه ځای دی، چې د بشر دماغي، بدني او روحي قوتونه په کې وده مومي او د شخصيت، معاشرت، فداکارۍ او عدالت درس په کې زده کوي، د مور د لوړې او اعلی درجې د تشريح او بيان له پاره په هېڅ يوه ژبه کې توري نشته.

پښتنو شاعرانو، اديبانو او ليکوالو هم هڅه کړې، چې د يوې لاچارې، مفلسې او وږې تږې مور او د دغه شتمن او بېش ارزښته دولت بيان وکړي، هغه دولت چې هغه يې د خپل ماشوم پر سر د خپل لاس راښکلو په واسطه هغه ته ورکوي، په دې اړه شاعر فضل حق شيدا وايي:

ستا د مينې ډکه غېږه
وه له ما به تل چاپېره
ما په تتة ژبه
څه صحيح څه تېروېره
زده کړې دغلته خبرې
مدرسه وه له ما هېره
د الله نوم اول ځلې

تا وما وته ښودلی
زه په ناز دې لوبولم
ته په ما خوشحالېدلې
چې به زه ومه ناچاقه
ته به رورو ژړېدلې
په هر نمر کې پر ما باندې
لکه کور ته غوړېدلې
ستا د سورې لاندې لوی شوم
زه ناپوهه ومه پوی شوم
مدرسې ته چې به راغلم
راله مخې ته راتلې ته
زه به واخيستم دې غېږ کې
په جامه کې نه ځايېدې ته
په وړو پښو به دې زور کړ
ګېر چاپېر به تاوېدې ته
دی به کله نوجوان شي
چې پوره زما ارمان شي
په تعليم پسې دې ورک کړم
دا دې خيال و، چې سړی شي
نالايقه چې زامن وي
لويې مياندې پرې وړې شي
چې زامن يې شاه زلمي شي
هله مياندې يې زړې شي
چې زه لوی شوم ته زړه شوې
دغه هم ښه وه، خو مړه شوې
په ما باندې دې تر اوسه
د خدمت بدل دی پاتې
زه به څه درکړمه واخله
دغه يو ګوګل دی پاتې
په سينه کې مې فقط يو
ډک د سوز غزل دی پاتې
تا په کې به وستايمه
او ژوندی به دې بيا کړمه

د مور د مقام درنښت، په اصل کې د بشري تمدن درناوی دی، څکه چې د انسان د قهرمانيو او کارنامو تاريخ د مور له سوچه نوم سره کلکه او نه شلېدونکې رابطه لري او دا انساني ستر مقام يعنې مور ده، چې د ننني ورځې د طبيعت پر اسرارو پوه انسان يې د مورولۍ په مهربانه غېږ کې د زړه په وينو روزلی دی.

استاد حبيب الله رفيع وايي:

ای زما مورې! زما ګرانې مورې
زما په غم کې سرګردانې مورې!
ما چې ژړل تا به زار زارولې راته
د ناز وينا به دې تکراروې راته

څلورم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورووونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# کتاب؛ ښه ملګری

کتاب د ژوند اساسي برخه ده، ډېر غوره ملګری دی، د تمدنونو ترمنځ د پول حیثیت لري، ستر ملتونه چې د پرمختګ او تمدن لوړو پوړیو ته رسېدلي، غښتلي لیکوال او څېړونکي یې درلودل، د کتاب د لوستونکو لېوال په کې زیات وو؛ همدا ده چې سو کاله ژوند یې په برخه شوی او د فرهنګ له پلوه بډایه شوي دي. کله چې په یوه ولس کې کتاب او کتاب لوستلو ته په درنښت وکتل شي، په حقیقت کې یې د خپلې ټولنې فرهنګي هویت ثابت کړی او بالعکس په یوه هېواد کې د کتاب او کتاب لوستنې د ارزښت کمېدل، په واقعیت کې د هغه هېواد د فرهنګي او فکري میراث محوه کېدل ښیي. دا ثابته شوې، هغه ولس چې کتاب نه لولي، باید چې ټول تاریخ تجربه کړي.

د پوهانو په اند، د کتاب له لارې د انسانانو د تجربو لړۍ زرګونو کلونو ته رسېدلې ده، انساني ژوند ته یې تسلسل ورکړی، دا هغه وسیله ده، چې د انسانانو د ذهني روښانتیا له پاره یې ستر کارونه کړي دي.

له همدې امله، د ملګرو ملتونو د فرهنګي، علمي او روزنیز سازمان (یونسکو) له لوري د کتاب نړیواله ورځ (د اپریل ۲۳مه یا د غويي د میاشتې درېیمه) نومول شوې ده او هر کال د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې نمانځل کېږي.

په دې ورځ د کتاب خپرونکو، چاپوونکو او پلورونکو او د کتاب مینه والو له لوري په ګډه کار کېږي، د کتاب د ګټو په اړه خبرې کېږي او خلک د کتاب لوستلو ته هڅول کېږي. خو د کتاب په برخه کې یو شمېر ټکي باید په پام کې ونیول شي؛ لومړی دا چې، لیکوال او څېړونکي باید د ټولنې له واقعیتونو او عیني شرایطو سره برابر اړین آثار رامنځ ته او وپنځوي. سره له دې چې زموږ په هېواد کې له تېرو څو لسیزو راهیسې جنګ جګړو خپل ټغر غوړولی، خو بیا هم یو شمېر څېړونکو او لیکوالو تر خپله وسه لیکنې کړې دي، تألیفات یې رامنځ ته کړي او له نورو ژبو یې ګټور آثار پښتو ژبې او ادب ته را ژباړلي دي او دې کار ته لا دوام ورکوي، خو په دې برخه کې لا ډېر کار، غور او دقت ته اړتیا شته، چې باید اړوند مراجع ورته پام وکړي.

دوهم دا چې، دغه ډول آثار په مناسبه بیه او ښه کیفیت چاپ او خپاره

# د کیفیت له پلوه د اثر ایډیټ

◈ څېړندوی سید نظیم سیدي

د ایډیټ په ډولونو کې بل ډول یې د څنګه والي یا کیفیت له پلوه د اثر ایډیټ دی، په دې معنا، موږ ډېر ځله ځینې لیکنې یا څېړنې وینو، چې د مترادفاتو او یا هم بې ضایه اضافي خبرو له امله اوږدې شوې وي، له هرې یوستوې جملې څخه ګډه، ګډلې او غبرګه جمله جوړه شوې وي او ترڅنګ یې ځینې څېرمه یا معترضه جملې ورسره اضافه شوې وي، چې د مسلک له پلوه به یې هېڅ اړتیا نه لیدل کېږي او یا هم اپوټه، ډېر ځله داسې هم کېږي، چې لیکنه یا څېړنه ډېره لنډه وي؛ خو معنا یې په سمه توګه رسولې وي؛ نو په داسې حالاتو کې د ایډیټر مسوولیت تر لیکوال هم زیات وي، په دې معنا، په لنډه خو له معنا څخه ډکې مقالې کې آن یوه کلمه هم بې ځایه نه وي لیکل شوې او که چېرې ترې لرې هم شي، جوت توپیر او نیمګړتیا پیدا کوي، چې هر لوستونکی پرې له ورایه پوهېږي؛ نو په داسې حالاتو کې د ایډیټر ځېرنه حتمي خبره ده او په اوږدو او معترضه جملو کې بیا د ایډیټر لاس یو څه ازاد دی؛ ځکه ایډیټر په اسانه جملې جوړولی شي او له هر اړخه که وغواړي، لنډې او خوندورې کولای یې شي، ځکه د لیکوال او لوستونکي موخه معنا وي، نه بې ځایه الفاظ؛ خو کله کله داسې هم پېښېږي، چې له ډېرو سختو او ستونزمنو متونو سره مخ کېږو، چې د یوې جملې لرې کول یې هم راته ستونزمن برېښي؛ نو په داسې حالاتو کې اړیو، چې اثر په څو ایډیټرانو ایډیټ کړو، په دې معنا، د ژبې له پلوه یې یو ایډیټر ته وسپارو، د مقالې لومړی وي او ورپسې د کشرانو لیکوالو مقالې وي، چې دا هم د ایډیټ له پلوه نیمګړتیا ګڼل کېږي؛ ځکه په نړیوالو معیارونو کې مقالې د لیکوالو د نومونو پر اساس نه؛ بلکې د قلمي او څېړنیزې وړتیا پر اساس ټاکل کېږي او وړاندې تر هغې، چې د مقالو ټولګه چاپ شي، ایډیټر یا مدون ته د یوې معیاري او ټولمنلې ټولګې بېلګه ورکول کېږي، چې د هغې له مخې یې جوړه کړي، په دې معیاري ټولګه کې لومړی د ټولګې نوم وي، چې د مقالو له روح څخه ټاکل کېږي، له موضوع سره تړلي د مقالو سرلیکونه، د مقالو څنګه والی او کچه یې، د ټولګې کچه، د مقالو او ټولګې د لوستونکو او د سوېې معلومول، د ټولګې پوهنیزه او څېړنیزه کچه، په مقالو کې انځورونه او خیالونه، د سرلیکونو ډلبندي، لمنلیکونه، د اخځ ښوونې کړندود، که اړتیا وه د انځورونو د راوړلو کړندود، پایڅوړونه او نښلونې، د مقالو لنډیزونه، د اواز پوهنې او غږ پوهنې ځانګړنې او دې ته ورته نور مسایل ټول په کې په پام کې نیول کېږي او له هغې وروسته بیا د مقالو ټولګه چاپېږي، چې که لوستونکی د ټولو مقالو په بشپړه توګه لوستنې ته وخت ونه لري، نو لنډیز ته خو یې هرو مرو وخت لري او په لږ وخت کې یې لوستلای شي.

دغه روش په سیمینارونو کې هم ډېر ګټور تمامېږي؛ ځکه یو څوک به په مقالې ډېر زیار کاږي او په زړه پورې پوهنیزه - څېړنیزه مقاله به لیکي؛ خو په غونډه کې د وخت د کموالي له امله ټوله مقاله نه شي لوستلای او یا هم ورته څرخي او بله پر بل، په داسې حال کې، چې سیمینار به د یو چا د نمانځغونډې یا تلین له پاره جوړ شوی وي، خبره به د ادب وي او لیک به پر سیاست شوی وي او یا به سړی شاعر وي او موږ به ترې فلسفي جوړ کړی وي، دا لا څه چې په ټولګه کې ټولې مقالې په یو فونټ «خط» هم نه وي، د فونټونو سایزونه به هم سره توپیر لري. دا او دې ته ورته لاملونه دي، چې زموږ سیمینارونه او د سیمینارونو ټولګې یې بدنامې کړې او څوک یې نه لوستلو او نه یې هم اخیستلو ته زړه ښه کوي. په داسې حال کې، چې په نورو هېوادونو کې خلک ډېر د سیمینارو ټولګو او مقالو ته ارزښت ورکوي، نه اثارو ته، دوی غواړي په یو وخت کې څو تنه او څو موضوع ګانې په لنډه خو په څېړنیزه توګه مطالعه کړي؛ ځکه اوس نه پخواني فرصتونه شته او نه هم وزګار وختونه، چې خلک شپې او ورځې د رومان او یا ناول په لوستلو ضایع کړي، د نننۍ پېر لوستونکي د عادي علمي مطالعې له پاره هم وخت نه لري، آن د ورځپاڼو یواځې سرلیکونه او ځینې مهم خبرونه تر نیمایي پورې مطالعه کوي. اوس کابو ژوند ماشیني شوی او رزق په منډه دی نه په تڼده، انسان دی او منډه. ډېر لږ داسې کسان دي، چې هغوی نسبتاً ارام ژوند لري، پاتې نور ټول په منډه دي؛ نو په داسې حالاتو کې زموږ اوږدې، نادقیقې او له فرعي جملو څخه ډکې مقالې څوک لولي او څوک ورته ځان دومره وزګارولای شي؟

که غواړو، چې زموږ سیستم منظم او لیکنې

شي، ترڅو يې ترلاسه کول ستونزمن نه وي. په دې برخه کې دولتي اړوند ارګانونه او خصوصي سکتور بايد د کتاب چاپولو او خپرولو ته لاښې لارې چارې برابرې کړي.

درېيم او تر ټولو مهم د مطالعې د فرهنګ عامول او وده ورکول دي، د کتاب لوستلو علاقمندان بايد زيات شي. زموږ په هېواد کې په هغه کچه، چې بايد کتابونه ولوستل شي، هومره مطالعه نه کېږي او آن دا چې، د مطالعې فرهنګ په ډېره ټيټه کچه يا له نشت سره برابر دی. دغه مسئله د کتابونو له پلور او پېر څخه له ورايه جوتېږي؛ په هغه کچه چې زموږ په ټولنه کې کتابونه چاپېږي، پېرل او اخيستل يې بيا کمرنګه وي. نو په کار ده، لکه د ژوند په ورځنيو چارو کې، چې بل هر کار ته وخت ورکول کېږي، په ورځ کې يوه برخه د مطالعې له پاره هم ځانګړې شي او په دې اړه لازمي ده، چې وويل شي، چې د تلويزيون او انټرنټي رسنيو په راوتلو سره، نه بايد چې خلک له کتاب ويلو څخه منصرف شي.

که زموږ هېوادوال د کتاب لوستلو ته وخت ورکړي او په ارزښت ورته قايل شي، نو د کتاب تقاضا به ورسره زياته شي، چې په دې سره به د هېواد اقتصاد هم څه ناڅه پياوړی او غښتلی شي. نن ورځ فرهنګ يوه مهمه اقتصادي سرچينه ګڼل کېږي، په پرمختلليو هېوادونو کې د هغوی د عوايدو يوه برخه له فرهنګي فعاليتونو برابرېږي، دغه راز مشهور ليکوال په کې د کتاب خپرولو او حق الزحمو اخيستو له لارې پانګه وال شوي دي، خو زموږ په ټولنه کې لا دې چارو ته چندان پاملرنه، نه کېږي.

د کتاب په اړه بله مهمه خبره داده، چې موږ نه يوازې دا چې د کتابونو په لوستلو کې برخه واخلو، بلکې په ساتنه او پالنه کې يې هم رغنده رول ولرو، ځکه په کتابونو کې د بشري نسلونو د فکرونو او تجربو زېرمې نغښتې دي. نو د کتاب د لوستلو د فرهنګ د دودولو له پاره مهمه ده، چې لومړی کتابونه زيات شي، کتاب ليکوالو ته د دولت له خوا معاش او کلني جوايز ورکړل شي، د کتاب لوستلو سيالۍ ترسره شي، د ليکنې او ژباړې مرکزونه جوړ شي، علمي کتابونه را وژباړل شي، د کتاب د چاپ حق خوندي شي، کتاب چاپول او خپرېدل يې معياري شي، کتاب پلورنځي زيات شي، پوهنتونونه، دولتي او خپلواکې ادارې په ورځپاڼو کې کلنۍ داخله واخلي او د دې له پاره بوديجه ځانګړې کړي، کتاب خپروونکو ادارو ته دولت پور ورکړي، د کتاب لوستلو ستر ستر کمپاينونه ترسره شي، په ښوونځيو او پوهنتونونو کې د کتاب نندارتونونه جوړ کړل شي، په تعليمي او تحصيلي نصاب کې د مطالعې له پاره ځای ورکړل شي.

له ښه مرغه سږکال د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري په هېواد کې (د غويي مياشتې له ۲۱مې تر ۲۸مې) د کتاب اونۍ نومول شوې، چې په همدې هيله يې په کابل ښار کې د هېواد د فرهنګي چارو د را ژوندي کولو په موخه د کتاب يو نندارتون رامنځ ته کړ، چې دغه چاره بايد د ټول هېواد په کچه وغځول او پراخه شي.

منځپانګې له پلوه يې بل اډېټر ته. د مسلک له پلوه يې بل څوک او د لنډون له پلوه يې هم بل اډېټر وګوري او ټول يې له اډېټ څخه وروسته متن همغږی کړي، ځکه داسې متون ډېرو سپړنو او شننو ته اړتيا لري او اډېټران بايد د لوستونکو خاطر هم په پام کې ولري. (۱)

نن سبا په افغانستان کې د مقالو ټولګې هم خورا ډېرې چاپېږي، چې يوازې د ليکوالو د نومو په کتلو سره ترتيبېږي، د مشرانو ليکوالو وخت نه رسېږي؛ خو که لنډيز يې لږ تر لږه په څو پاراګرافونو او يا هم يو مخ کې ځای شي؛ نو هم يې د لوستلو له پاره وخت پيدا کېږي او هم يې وروسته د مقالې مينه وال او لوستوال پيدا کېږي؛ خو له بده مرغه د ننني پېر په اکاډميکو موسسو کې دا ډول کړندود، نه په سيمينارونو او نه هم د مقالو په ټولګو کې مراعتيږي، آن تر دې، چې د مقالو په ټولګو کې سرليک يو شی وي او منځپانګه بل شی. يوه مقاله په يوه کس مو خلک ولولي. بويه پورتنی سپارښتنې په پام کې ونيسو، چې هم د وخت د مخنيوي له پاره تر ټولو ښه، غوره او نوی روش دی او هم ټوله نړۍ اوس په همدغه لاره روانه ده.

اخځليک:

۱ - ګيلاني، احمد سميعي: نګارش و ويرايش، شپږم چاپ، تهران، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامي، ۱۳۸۳ لمريز کال.

## د نويو لغتونو...

په غوښتنو او معناوو باندې ځانونه وپوهوو.

که څه هم، ډېرې کسان په دې نظر دي، چې له ژبې څخه دې د پرديو لغتونو له لرې کولو او ايستلو څخه ډډه وشي، ځکه چې هغه د وخت په اوښتلو سره د ژبې خپل مال ګرځي، په ګرامري چوکاټ کې ور داخلېږي او د ژبې بنسټ يا طبيعي جوړښت ته زيان نه رسوي او بله دا چې، دا امکان نه لري، چې يوه ژبه دې په تمامه معنا نګه، سوچه او د نورو ژبو له اغېزې څخه په ډډه پاتې شي.

دا د منلو وړ خبره ده، چې يوه ژبه په هېڅ صورت هم د نورو ژبو له تاثير څخه خوندي نه شي پاتې کېدای، دا ځکه چې نه ټولې ژبې په يوه کچه او يوه پله د پرمختګ پر لور روانې دي او نه په نړۍ کې داسې ژبه شته، چې هغه دې يوه نګه ژبه وي او دې ته دې محتاجه نه وي، چې د نورو ژبو تاثير ته غاړه کېږدي، خو د دې په څنګ کې دا هم ډېره اړينه ده، چې د ژبې خپلو لغتونو ته پاملرنه وشي، د کارونې موقع ورکړله شي او هغه استعداد، توان او قابليت چې لري يې، تر خاورو لاندې نه شي، کله چې يو څوک دا ډول څېړنه کوي، دا پته هم ورته لګي، چې ژبه يې څو سلنه پرديو لغتونو ته اړتيا لري.

اصلي خبره چېرته او څنګه ده؟ که سړی رښتيا ووايي، په اوسني وخت کې کله کله د داسې لغتونو له اورېدلو او لوستلو سره مخامخ کېږو، چې زما غوندې ناتوانه شخص ته پوهېدل ورباندې ګران دي او دا هم نه ورته معلومېږي، چې ولې او د څه له پاره دا لغت په دې ځای کې کارول شوی دی. موږ د نويو لغتونو جوړولو او لرلو ته اړتيا لرو، چې له يوې خوا مو د ژبې خپل لغتونه له کارونې څخه محروم او بې برخې نه شي او له بلې خوا مو د ژبې لغوي ذخيره له پرديو لغتونو څخه ډکه نه شي. د يوې ژبې د خپلو لغتونو کارول تر ډېره بريده په ژبه کې د ارخاييزم لړۍ پخوي.

په خپلسر د نويو لغتونو جوړول او کارول، پرځای او په زړه پورې عمل نه دی، ځکه چې دا ډول کړنې په ژبه کې ګډوډي رامنځ ته کوي او دې ته زمينه برابروي، چې له علمي اصولو څخه سرغړونې ته لاره پرانيستله شي او ډېر خنډونه رامخې ته شي.

د دې له پاره، چې له يوې خوا د ګډوډيو مخه ونيوله شي او له بلې خوا مو مناسب عمل ترسره کړی وي، دا به ډېره ښه وي، چې د نويو لغتونو د جوړولو او د مناسبو ځايونو د په نښه کولو چارې ژبپوهانو په تېره بيا هغو کسانو ته وسپارل شي، چې ډېره پوهه او تخصص په کې ولري، چې دا تفکيک کړای شي، چې کوم لغت وکارول شي او د کوم پردي لغت په ځای د خپلې ژبې يو لغت را وړاندې کړي.

د يوې ژبې خپل لغت بايد د دې توان ولري، چې د يوه پردي لغت ځای څنګه چې په کار ده، په هماغه شکل ډک کړي او هغه څه په درست ډول افاده کړي، چې يو پردی لغت يې افاده کوي. که چېرې پوهانو وس نه درلود، چې داسې يوه تشه ډکه کړي، نو ښه خبره داده، چې پردی لغت په خپل ځای پرېښودل شي او په دې برخه کې له بې ځايه ضد کولو څخه ډډه وشي.

موږ بايد هغو لغتونو ته نوي لغتونه جوړ کړو، چې زموږ نه وي، يعنې د نورو ټولنو او خلکو له کړنو او کلتوري او فکري فعاليتونو څخه رازېږېدلي وي او په يوه نه يوه وجه زموږ ژبې ته راغلي وي. هر ډول جوړونه پرځای عمل نه دی، ځکه چې د ژبې موجودو لغتونو ته زيان رسوي. دا ډېره مهمه او اړينه ده، چې د نويو لغتونو په جوړولو کې ټولنه په پام کې ونيوله شي، ځکه نوي لغتونه هغه وخت عموميت پيدا کولای شي او پيدا کوي يې، چې ټولنه يې ومني.

دا ډېره اړينه ده، چې د نويو لغتونو په جوړولو کې ژبپوهان او د يوه مسلک مجرب پوهان په ګډه برخه واخلي، چې د نويو لغتونو د جوړولو عمليه په ښه توګه پرمختګ وکړي او د چا له نيوکو سره مخامخ نه شي.

دې ته مو بايد پام وي، چې د نويو لغتونو جوړول خپلسري عمل نه دی او هر څوک چې په دې لاره په ګوښي ځان تګ کوي، د مقصود منزل ته نه رسېږي او برياوې به ونه لري.

# یوه پښتو...

پښتونولي د یوه قانون نوم هم دی، چې د ژوند په تجربو کې یې ځینې ارزښتونه ټاکلي او بیا یې هغه د پښتنو د منظم، منسجم او محترم ژوند کولو له پاره عملي کړي او د نرخونو او کودونو په بڼه یې نسل په نسل لېږدولي او خپل ژوند یې پرې سنبال کړی دی او همدا دی، چې د پښتو کانۍ تراوسه هم نه ورستېږي او پوخ پاتې شوی دی.

پښتونخوا د دې ملت ټاټوبی دی، چې د یونانیانو په ژبه، پکتیا او پکتیکا بلل کېده او زموږ په ژبه پښتونخوا او بیا افغانستان وبلل شوه او د آسیا په سینه کې یې د آسیا د زړه بڼه غوره کړه.

پښتو ژبې د ویدي او اوستایي سرودونو لاره وپالله او پیاوړي او پراخه ولسي ادبیات یې رامنځ ته کړل، د میندو سندرې او د ماشومانو سندرې د پښتو هغه لرغونې سندرې دي، چې د زړو او مړو ژبو کلمې او حتی بشپړې جملې په کې خوندي دي او لنډۍ خو بیا هغه موجز او معجز کلام دی، چې په پوخوالي او جامع والي کې یې د ټولې نړۍ به ژبو کې ساری نه لیدل کېږي او د ژوند ټولې خواوې په خپله لمنه، خو وړېښمینه لمن کې رانغاړي.

سپوږمیه سر وهه راخېژه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

***

ما ځیګری دې ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتیا به شینه

د فکر له اړخه د زرګونو کلونو وړاندې لنډۍ دي، خو د الفاظو په بدلون سره یې تر ننه موږ ته ځان را رسولی دی:

بېلتونه راشه سترۍ مه شې
زړه مې پښتون دی مېلمه نه خپه کوینه

***

د زلفو تار نښاني راکړه
که په قیامت یې رانه غواړې دربې کړمه

***

په ګودر سور سالو ښکاره شو
ما ویل په تورو اوبو اور ولګېدنه

***

بنې بنتون رابانددې تېر شو
زه د دوزخ د لنبو څه پروا لرمه

***

ځان یې زړو جامو کې جوړ کړ
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وینه

***

آشنا مې وږی رانه تللی
چې دسترخوان لره ورځم ژړا راځینه

او داسې په زرګونو لنډۍ، چې د پښتنو د ښکلا، وفا، ستونزو، ښه ذوق او د ژوند د نورو اړخونو ښکارندویې او څرګندویې دي.

د پښتو د لیکلي ادب په لاره کې هم، خورې ورې هڅې وشوې، خو په لسمه پېړۍ کې «روښان بابا» ته راورسېدې، ده چې پر یوه ځای دیني، ادبي او ملي مبارزه کوله، د خپل پیغام د رسولو له پاره یې په پښتو هم کتابونه ولیکل. دا کتابونه خصوصاً خیر البیان، ده الهامي وبلل او څرنګه، چې له ده سره تر ده وړاندې پښتو آثار نه وو، نو د پښتو خصوصاً د پښتو غږونو د ځانګړو تورو د لیکلو له پاره یې هم الهامي غږ واورېد او د پښتو له پاره یې داسې توري جوړ کړل، چې په ورته عربي تورو یې وړې ‑وړې نخښې ور زیاتې کړې، خو یوه مهم ټکي ته متوجه شو، چې توري د توري له پاسه کښېنږدي، لکه موږ چې اوس د (ح) او (همزه) له تورونه د (ځ) د لیکلو له پاره کار اخلو.

ده ارزو درلوده، چې ټول پښتانه دا لیکدود د پښتو د لیکلو له پاره وکاروي او یوه ژبه په یو ډول ولیکله شي.

آخوند درویزه، چې د ده په مقابل کې ولاړ و او له مغولو سره یې ژور روابط درلودل، د ده د آثارو د سوځولو فتوا ورکړه او د ده په مقابله کې یې د پښتو آثارو د لیکلو کار پیل کړ، چې ورسره یې پښتو ته نوی لیکدود هم جوړ کړ، چې د ده له لیکدود سره یې ژور توپیر درلود.

تر دوی وروسته، خوشحال بابا چې نه د روښان آثار معیاري بلل او نه د آخون درویزه، ده پښتو ته درېیم لیکدود جوړ کړ، چې زنځیرۍ وبلل شو، خو د وخت په تېرېدو او د یوې پېړۍ په اوښتو د روښان او خوشحال لیکدودونه څنګ ته شول او د آخوند درویزه لیکدود پښتو آثارو په لیکلو کې ومنل شو، چې په لږ تغییر تراوسه راپاتې دی.

د هند نیمې وچې ته د انګرېزانو له راتللو سره، انګرېزانو لومړی د بشپړ افغانستان د نیولو او بیا د وېشلو هڅه وکړه. په ۱۸۳۸ زېږدیز کال یې د لاهور د درې کوټیز تړون، په ۱۸۷۸ز کال یې د ګندمک او په ۱۸۹۳ز کال یې د ډیورنډ د تړونونو له مخې د لوی افغانستان له وجود نه په ختیځ، جنوب او جنوب لوېدیځ کې ګڼې خاورې بېلې کړې او لوی افغانستان یې ټوټې ټوټې کړ، خو پښتنو دا ظالمانه وېش ونه مانه او تر ننه یې نه دی منلی.

دې بېلتون ونه کړای شول، چې د پښتنو د سره ارتباط لارې بندې کړي او سره ویې شلوي، د لروبرو پښتنو ارتباطات او راشې درشې پاتې شوې، خو په کلتوري لحاظ یې سره بېل کړای شول او هلته او دلته د پښتو په لیکدود کې ډېر بدلونونه راغلل.

همغه وو، چې د پښتونخوا خوربو لیکوالو که هلته وو او که دلته، د پښتو لیکدود د یووالي له پاره هڅې پیل کړې، د پېښور د لیکوالو هیئت دلته راغی او د دې ځای له پښتنو لیکوالو سره یې د پښتو لیکدود د یو کولو پرېکړې وکړې او د دې ځای د لیکوالو هیئت هلته ولاړ او تر غور وروسته یې د یو شمېر اختلافي ټکو د یو ډول لیکلو پرېکړې وکړې، خو لکه څنګه چې لازمه ده، داسې عملي نه شوې.

وروستۍ پرېکړه په ۱۹۹۱ زېږدیز کال د پښتونخوا د باړه ګلۍ (یا بره ګلۍ، ځکه کوزه ګلۍ هم لري) پرېکړه وکړه، چې د افغانستان، جنوبي پښتونخوا، لرې پښتونخوا او د پښتنو د ټولو سیمو نماینده ګان په کې وو، د اختلافي ټکو شل مادې یې تصویب کړې، چې د پښتو د یې ګانو په یووالي، د (ڼ) په تثبیت او ځینو نورو ټکیو ولاړې وې او په لره او بره پښتونخوا کې په سلو کې نوي تطبیق شوې، چې دا د ژبې په یووالي کې لوی بری دی.

د کوزې پښتونخوا په اکثرو لهجو کې د ځ، څ، ژ، ږ او ښ غږونه نشته، خو دوی د ژبې د یووالي په خاطر هغه ومنل او لیکي یې، یې ګانې هم تر یوه ځایه بدل تلفظ لري، خو دوی یې لیکي، چې دا د پښتو د یووالي په لور یوه مثبته او د ستاینې وړ هڅه ده.

له بلې خوا له بده مرغه، موږ وینو چې ځینو لیکوالو د لهجو لاره خوښه کړې او د ختیځې او لوېدیځې لهجې په نامه د تفوق طلبۍ او اصالت هڅې کوي، یا ګانې په خپلو لهجو لیکي او د ګرامر د ورانولو له پاره ناوړې هڅې کوي.

خونړۍ جګړه وکړل.

لاره ونیول.

او دې ته ورته لیکنې د پښتو ګرامر اصالت او قواعد له منځه وړي.

زه بېرته سرلیک ته راځم، یوه پښتو او یو پښتون.

پښتو یوه ژبه ده، د یوه ملت ژبه ده او باید د یوې معیاري ژبې په توګه یې په یوه بڼه ولیکو او خپل ولس ته د لیکدودي اختلافونو پرځای د وروروۍ او یووالي پیغامونه ورسوو او پښتانه یوه هدف او یوه جهت ته متوجه کړو.

عربي هېوادونه، ښار په ښار بېلابېلې لهجې لري، خو د لیک ژبه یې یوه ده، چې فصیحه ژبه ورته وایي. موږ هم حق لرو، چې خپلې لهجې وساتو او وڅېړو، خو لیک په یوه ژبه وکړو، په معیاري ژبه یې وکړو او په هغه ژبه یې وکړو، چې زموږ مشرانو، پوهانو، علامه ګانو او لویو استادانو منلې او موږ ته یې را پرې ایښې ده او که داسې ونه کړو، بیا نو د هغو کسانو دښمنانه هڅې، چې د پښتو ټکی ټکی له افغاني لیکنو نه باسي، زموږ له نفاق افګنانو هڅو سره ډېر توپیر نه لري.

نورې ژبې یادول که دې کمال دی
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

***

یوه پښتو، یو پښتون
دا دی د ژوندون قانون

## په پښتو ادبياتو کې...

ادبي اثر په توګه د پښتو په ادبي مطالعاتو کې شامل دي. د ګوهر خان خټک "قلب السير"، چې د ۱۱۲۰ هجري قمري کال يې له دري څخه په پښتو نثر ژباړلی، د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پر سيرت سربېره په کې د شاعر ځينې منظومې او شعري بېلګې او ادبي څرګندونې خوندي دي، په ادبي مطالعاتو کې د راوړلو حق لري. همدارنګه د افضل خان خټک د "کليله او دمنه" ژباړه، چې په خوږه پښتو ادبي ژبه په ۱۱۲۸ هـ ق ترسره شوې او "تاريخ مرصع" چې تر ۱۱۳۶ هـ ق پورې پېښې په کې خوندي دي، د ځينو ادبي بحثونو د لرلو له امله زموږ په ادبي مطالعاتو کې راتلای شي.

د دې دورې يو بل مهم اثر، چې زموږ په ادبي مطالعاتو کې بنسټيز ارزښت او اهميت لري، هغه د محمد هوتک "پټه خزانه" ده، چې په ۱۱۴۱ -۱۱۴۲ هـ ق کلونو کې ليکل شوې ده.

"د پښتو نثر اته سوه کاله" اثر د ليکوال د څرګندونو له مخې، زموږ په ادبي مطالعاتو کې د دې اثر ارزښت او اهميت څو اړخيز دی. د دې کتاب معلومات د پښتنو د فرهنګي تاريخ، ادبي تاريخ او د پښتو د نظم او نثر د تاريخ له پاره ډېر ګټور معلومات وړاندې کوي او موږ د خپل لرغوني ادبي تاريخ د مانۍ د رغونې بنسټ د همدې کتاب پر محتويا تو ږدو. (۲)

د پيرمحمد کاکړ "معرفة الافغاني"، چې له ۱۱۸۶ هـ ق کال دمخه ليکل شوی، زموږ په ادبي مطالعاتو کې د يادونې وړ دی. د حميد مومند د اشعارو پښتو شرحه، چې په همدغو وختونو کې شوې او شارح يې نه دی څرګند او همدارنګه د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرحه، چې د هغه معاصر خانعلوم قاضي محمد غوث کړې او په ۱۳۵۶ لمريز کال د کندهار مجلې له خوا د استاد رشاد په سريزه چاپ شوې ده، د پښتو د ادبي مطالعاتو د تاريخي لړۍ بېلې بېلې کړۍ دي.

د ادبي مطالعاتو په لړ کې د ننګرهار د ګردي غوث او سيدونکي مياشرف "د پښتو عروض" نومي اثر يادونه هم ضروري ده، په پښتو شعر او ادب کې د عربي عروضو په څرنګوالي بحث کوي او په پښتو شعر کې د عروضو بېلګې وړاندې کوي.

مياشرف د لوی احمدشاه بابا معاصر او له هغه سره په ۱۱۷۴ هـ ق کال د پاني پت په جګړه کې حاضر و، د ميا شرف پښتو عروض په ۱۳۴۴ لمريز کال د پوهاند رښتين له څېړنو سره پښتو ټولنې چاپ کړی دی.

په ادبي مطالعاتو کې د "ګلشن اشعار افغاني" د سيد عمر راټولونه او د مولوي نورمحمد نوري افغان "غونچه روه"، چې په ۱۲۸۰ هـ ق کال يې بشپړ کړی، د يادونې وړ دی. (۳)

او په همدغو وختونو کې د مولوي احمد (۱۲۶۱ -۱۳۰۰ هـ ق) نوم بايد هېر نه شي، چې "ګنج پښتو"، "آدم خان درخانۍ منثوره کيسه او نور يې د پښتو په ادبي مطالعاتو کې ځانګړی ځای لري.

ختيځپوهان هم د پښتو ادبي مطالعاتو په بهير کې د يادونې او ستاينې وړ ونډه لري. د دغو ختيځپوهانو په ليکلو او راټولو کړيو آثارو کې د ډورن (۱۸۰۵ - ۱۸۸۱ "پښتو منتخبات" (۱۸۴۸م چاپ)، د راورټي "ګلشن روه" (۱۸۶۰م چاپ)، د پادري هيوز "کليد افغاني" (۱۸۷۳م چاپ)، د ډارمستټر "پښتونخوا شعرهار و بهار" او نور د بېلګې په توګه يادولای شو. (۴). په لږ را وروسته وختونو کې، چې په پښتو ادبياتو کې د هنري نثر د پيدايښت څرکونه لګېږي، د ميا محمد يوسف کاکاخېل "توبة النصوح" ناول (۱۳۲۳هـ ق) او مياحسيب ګل کاکاخېل (۱۲۹۳هـ ق) "نقش نګين" ناول له اردو څخه پښتو ته ژباړلي، سيد راحت زاخېلي په پښتو ژبه "ناول د ماروخې" ليکلی او په ۱۹۱۰م کال چاپ شوی، قاضي ميراحمد شاه رضواني په ۱۸۹۸م کال "بهارستان افغاني" او په ۱۹۰۵م کال "شکرستان افغاني" چاپ کړي، چې د پښتو په معاصرو ادبي مطالعاتو کې مهم ځای لري.

له دې را وروسته، په معاصره ادبي دوره کې د پښتو د ادبي مطالعاتو بهير چټکه وده، پراختيا او پرمختيا موندلې، ډېر نوميالي ليکوال او څېړونکي رامنځ ته شوي، چې په خپلو ارزښتناکو ليکنو او څېړنو يې ادبي مطالعات بډای کړي دي. په دغو نومياليو اديبانو کې د بېلګې په توګه په افغانستان کې د: پوهاند عبدالحی حبيبي، پوهاند صديق الله رښتين، پوهاند عبدالشکور رشاد، استاد ګل پاچا الفت، عبدالرووف بېنوا، قيام الدين خادم، کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي او همدارنګه په پښتونخوا کې دوست محمد کامل مومند، امير حمزه شينواري، سمندر خان سمندر او نورو نومونه يادوو، چې هر يو په لسګونو آثار د پښتو ادبي مطالعاتو بهير ته ور ډالۍ کړي او د پښتو ادب پانګه يې پړې درنه او شتمنه کړې ده.

اخځليکونه:


(۱) هوتک محمد، پټه خزانه. د پوهاند حبيبي په زيار، د تأليف او ترجمې رياست، د فرانکلن خپرونې، ۱۳۳۹ لمريز کال، ۶۰ مخ.
(۲) هېوادمل زلمی (سرمحقق)، پښتو نثر اته سوه کاله. دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۰ لمريز کال، ۴۲۳ مخ.
(۳) پښتو نثر اته سوه کاله، ۲۷۵ مخ.
(۴) خليل جاوېد (ډاکټر)، پښتو او مستشرقين، پښتو اکيډمي، پېښور پوهنتون، ۲۰۱۱ زېږديز کال، ۲۵ مخ.


## ادبي او فرهنګي خبرونه....

➢ همدا راز په کندهار کې "انارګل" دوديزه کلنۍ مشاعره د سلګونو شاعرانو، فرهنګيانو او د ادب د مينه والو په ګډون د غويي مياشتې په ۲۱مه، جوړه شوه. مشاعره د کندهار راډيو ټلوېزيون د ودانۍ په انګړ کې مازيګر مهال پيل شوه او د شپې تر ناوخته يې دوام وکړ، چې د شعرونو تر څنګ يې د تمثيل او ننداري برخه هم لرله. په دې مشاعره کې له کندهار سربېره د کابل، هلمند، زابل، اروزګان او د سوېلي پښتونخوا (چمن او کوټې) سلګونو شاعرانو ګډون کړی و او د شاعرانو شعرونو تر ډېره عاطفي بڼه لرله، چې خلک په کې يووالي، له خپل هېواد سره مينې او نورو مسايلو ته رابلل شوي وو.

*****

### ليکوال او شاعر بازمحمد عابد وستايل شو

په ننګرهار کې ختيځ ادبي بهير د ليکوال او شاعر بازمحمد عابد د فرهنګي او ټولنيزو خدمتونو د درناوي په موخه د غويي په شلمه نمانځغونډه جوړه کړه.

د ختيځ ادبي بهير د مسوولينو په وينا، د ليکوال او شاعر بازمحمد عابد په وياړ يې دغه غونډه ځکه جوړه کړې وه، چې د نوموړي د ادبي او فرهنګي هڅو تر څنګ د هغه د خير ښېګڼو هڅې هم وستايل شي. که څه هم عابد له کلونو را په دېخوا د هېواد په فرهنګي ډګر کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې، خو په تېرو دريو کلونو کې يې د ټولنيزو خدمتونو لمن پراخه کړې او په يوازې ځان د بې وزلو له پاره مرستې ټولوي.

*****

### د غني خان د زوکړې سلمه کليزه ونمانځل شوه

د نوښتګر شاعر عبدالغني خان د زوکړې د سلمې کاليزې په وياړ دوه ورځنی علمي - څېړنيز سيمينار په کابل کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا د غويي مياشتې په ۲۵مه او ۲۶مه ترسره شو.

د سيمينار په لومړۍ ورځ د ولسمشر حامد کرزي په ګډون د کوزې پښتونخوا له يو شمېر سياستوالو او مخکښو څېرو هر يو افضل خان لالا، افراسياب خټک، شميم مشاهد، ځلاند مومند او د غني خان لمسي مشعل خان، سربېره د علومو اکاډمۍ علمي غړو، د کابل پوهنتون استادانو او ګڼ شمېر ليکوالو، شاعرانو، علمي او فرهنګي شخصيتونو ګډون کړی وو. په دې سيمينار کې د غني خان د شاعرۍ او د هغه د سياسي او فرهنګي شخصيت په اړه وېناوې او څېړنيزې ليکنې واورول شوې.

پښتو ادبياتو کې د غني خان ارزښت او اهميت ته په کتو، د هغه په نوم کابل ښار کې حضوري چمن ته څېرمه، يو واټ د غني خان په نوم ونومول شو. غني خان د خان عبدالغفار خان زوی دی، چې په ۱۹۱۴ز کال د کوزې پښتونخوا د اشنغر د اتمانزو د خوازيخېلو په قبيله کې زېږېدلی و او په ۱۹۹۶ز کال ومړ.

چهارشنبه ▣ ۳ - ۴مه گڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۳ - ۲۰۴مه گڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د غویي ۳۱مه ▣ ۱۴۳۵هـ ق کال د رجب المرجب ۲۱مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د مې ۲۱مه ▣ ۴ مخ


# زېری

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی

مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري

zerai1316@gmail.com

www.facebook.com/Zeerai1316

۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز

خپرنیز ارګان

پته: د افغانستان د علومو اکاډمۍ ودانۍ، نوی ښار، کابل - افغانستان

کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی


# د پوهاند رښتین له نظره پښتو لنډۍ

درېیمه برخه

◆ څېړنپوه علي محمد منګل

پر پښتو ژبې یو بل ډېر سترمین او ډېر لېوال لوی خدمتګار، چې د پښتو ژبې له پرمختیا سره یې بې له شکه د زړه له کومې مینه درلوده، په خپل خواږه عمر کې یې ستونزه او زیار په ځان منلی او ګاللی و، چې د زیار، هڅې او هاند ډېر خوږ حاصل یې د پښتو ژبې د وړاندې تګ په برخه کې په لسګونو آثار دي، چې په پوره زیار یې له علمي منابعو څخه لیکلي او هم یې د خپل ستر فکر او پوهې په رڼا کې په پښتني مینه په میراث ترې راپاتې دي، چې او سمهال پښتو ژبه پرې ښه ښېرازه ده، ټول آثار او سرچینې یې د استفادې وړ دي. د پښتو ژبې د معاصر ادب د ستر ګلستان او باغ و بڼ دا نومیالی مالیار پوهاند صدیق الله رښتین و.

زموږ دې وتلي مشر او فاضل استاد، هم په خپل وار سره د پښتو د ملي او ولسي ادب په برخه کې، ډېر څه راته د ړنو مرغلرو په شان په یوه تار کې پېیلي دي، په دغه ادبي تار کې یې، د پښتو لنډۍ د قیمتي مرغلرو د ارزښت په باره کې بې سارې یادونه، زموږ د معاصر ادب د نورو پوهانو په شان راځلولې ده، په یوه ډېر لنډکي او کوچني یادښت کې یې داسې راته په ویلی شو. د پښتو په هره لنډۍ کې د یوه پوره غزل او قصیدې مفهوم پروت دی. د لنډۍ اوله مسره (۹) سپلابه، له دوهمې نه لنډه وي، نو ځکه ورته لنډۍ وایي، دوهمه یې اوږده او د یارلس (۱۳) سپلابه وي.

لنډۍ ته ټپه او ټکۍ هم وایي. په لنډیو کې هر ډول ګڼ مطالب ویل کېدای شي، خو زیاتې لنډۍ عشقي او د مینې محبت په ګاڼه ښایسته وي. د ننګ او غیرت، تورې او مېړانې لنډۍ په کې ډېرې شهرت لري، لنډۍ په هر ځای کې په جلا جلا آهنګ او تال ویل کېږي، چې تېراوالې، شلګرۍ او پېښورۍ په کې ډېرې وتلې او ښه شهرت لري. ښاغلي بېنوا په خپل اثر "چند آهنګ پښتو" کې د لنډیو آهنګونه ښودلي دي او وایي، چې نور هم لري، پښتو لنډۍ په کامل ډول تراوسه نه دي راټولې شوې، یوازې اته زره لنډۍ د پښتو ټولنې له خوا چاپ دي. اې منګله! تاسې چې لنډۍ او ټپې یا ټیکۍ سندرې بولئ، خو دومره به درته ووایم، چې سندرې عمومي نوم دی، ته یې چې سندره بولې او سندرې یې ګڼې، په عمومي رنګ کې به یې ومنو، خو په خصوصي رنګ

سندرې مه بوله جانانه!
سوې سندرې د زړه غم را زیاتوینه
سندره بولې غږ دې نشته
په دې سندره خو دې زه وشرمېدمه

استاد په خندا شو او ویې ویل: منګله! ستا سندرې خو د لنډیو په ښه جوړې دي، دا نو د سندرې ډېر لوی رغښت او ښه په لاس راکوي، ځکه چې د پښتون ولس د ژبې لهجوي رنګونه ټول، څېړنو ته اړتیا لري، باید په اړه یې تحقیق او هڅې ترسره شي.

د درانه استاد رښتین، پورتنی لوړ ډېر عالي نظر، چې د لنډیو د پوره ارزښت په باره کې یې راته په ټوله ادبي رنګینۍ رنګین یاد کړی، د ده د اروا د ښادېدو له پاره به یې، دا څو لنډۍ د لمنې مرغلرې کړو:

کور ته درځه پروا مې نشته
دا څه دستور دی چې په ورو بړدې قدمونه
***
ما خو دې کور لیدلی نه دی
دا سور ټیکری په کوټه ویر کړه در به شمه

✸ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

## د پښتو ادبیاتو اړوند یو شمېر آثار چاپ شول

- **"د فردوسي شاهنامه"** پښتو منثوره ژباړه د ډاکټر صالح محمد زېري له لوري د سریزې په ګډون په ۶۳۳ مخونو کې چاپ او خپره شوې ده. دا ژباړه په ایران کې د محبوبې کاشاني په زیار له چمتو شوې منثوري شاهنامې څخه ترسره شوې ده. د پښتو په ژباړه کې له هر منثور نکل سره، چې په عنوانګوټو سره جلا کېږي، د اصلي شاهنامې څو بیتونه هم د بېلګې په توګه راوړل شوي، چې لوستونکی د نکل پر اصلي څرنګوالي او د بیان پر ښه خبروي. په پښتو شاهنامه کې د اصلي متن د شپېتو زرو بیتونو ټوله منځپانګه راغلې ده. باید وویل شي، چې فردوسي شاهنامه تراوسه پورې په عربي، فرانسوي، ایټالیوي، روسي، الماني، ډنمارکي، لهستاني، ترکي، هندي او ارمني ژبو ژباړل شوې ده، خو د دې مهم اثر ځای تردې دمه په پښتو ژبه کې خالي و.




- **"خوشحال پېژندنه"** د هغه اثر نوم دی، چې پوهنوال شاه ولي خان لیکلی او تازه په جلال اباد کې د ختیځ خپرندویې ټولنې له لوري د چاپ په ګاڼه پسولل شوی دی. په دغه څېړنیز اثر کې لیکوال په ډېره هنري بڼه د خوشحال بابا د وخت سیاسي حالت او د هغه پر ژوند (له قوم، نسب، پیدایښت او ماشومتوب نیولې ان تر مړینې، وصیت، اولادونو او آثارو پورې) کره معلومات راټول کړي او څېړلي دي.

څو غوره او بارزو کلمو کې لیکلي و :

«د منګلو منګله! چې کله مې د اداري د کار په دفتر کې ووینې، زما له ډېرو بوختیاوو او کارو سره سره، بیا هم یوه ادبي پوښتنه د پښتو ادب د ډولونو او انواعو په باب رانه کوې، د پښتو لنډیو په باره کې به دومره په لنډه توګه ووایم، چې لنډۍ د پښتو ژبې یو ډېر لرغونی طبیعي شعر دی، لنډۍ کوم معلوم ویونکی نه لري، بلکې د ټول پښتون ولس یوه شریکه ملي ادبي پانګه ده، چې بې له شک څخه د پښتو د شفاهي او ولسي ادب یوه غوره برخه ورته کې به د سوال ورږوي؟»

دا و، د لنډیو په باب د فاضل استاد پوهاند صدیق الله رښتین نظر، خو ماته یې وویل :

منګله! ته چې لنډیو او ټپو ته سندره وایې، نو کومه نمونه به یې په دغه نوم بللو سره ووایې.

د اروابناد استاد، د دغې یادونې له مخې، چې ماته یې په موسکا وویل، زه څه ترنګ غلی شوم، بیا مې دا سندرې ورته وویلې :

سـندره ګـډه وډه ولاړه
پیڅه پلو یې ټولوه منځ یې ګلونه

***

ترسر مې تېرېږې که را لاندې
زه د منت په څنګل خوب کله کومه

***

چې سترګې تورې کې راووځه
د تورو سترګو سوداګر راغلي دینه

***

توره په لاس بورې په غاړه
جانان ولاړ دی د میوند غزا له ځینه

## مور...

د مینې غېږ کې ګرځولم به دې
که به خپه وم خندولم به دې
شپه به دې ویښه تېرولې راته
للولو به دې کولې راته
زما خوښې د تا خوښې وه مورې
په ما دې ډېره خواخوږې وه مورې
تا مې پالنه او روزنه کړله
تا مې خدمت تا مې ساتنه کړله
ما ستا په مرسته باندې ځان ولیده
ما ستا له غېږې نه جهان ولیده
نو زما ګرانې زما ښکلې مورې
زما خوږې زما ښاغلې مورې
چې زما مور زما حقداره یې ته
زما د ژوند او ځان واکداره یې ته
څو چې یم تا ته احترام به لرم
تل درناوی ستا د مقام به لرم
ای زما مورې زما ګرانې مورې
زما له غمه سرګردانې مورې

ناپېلیون بناپارټ د مور د عظمت په باب لیکلي وو: "مور په یو لاس زانګو او په بل لاس ټوله نړۍ زنګوي". چارلس ډکېنس نظریه لري: "د نړۍ سوله او امنیت هغه وخت ټینګېدای شي، چې د سیاست واګې د پلرونو له کلکو لاسونو څخه د میندو نرمو لاسونو ته ورشي". د مور غېږ هغه پاک او لوی نعمت دی، چې د هغې په ازاده او لویه لمن کې ټولنې ته خدمت، سوله، ترقي، پوهه او علم زده کېږي. د مور غېږ د خوشحالۍ، نېکمرغۍ، قوت، روغتیا او وجدان ساتلو رښتیانۍ جاله ده.

د مور د مینې په اړه رابندرنات ټاګور لیکلي وو : "کوچني له موره وپوښتل :

- زه له کومه شوم؟ زه دې له کومه ځایه راپیدا کړم؟

په لړ څه غرېو او لړه خندا یې کوچنی په غېږ کې راټینګ کړ او ځواب یې ورکړ :

- راته ګرانه! ته زما په زړه کې پټه هیله او امېد وې، په کوچنیوالي کې مې د کوچنیتوب په لوبو او لوبوونکو څیزونو کې پلټلې او کله چې به مې هر سهار له متېنې خاورې څخه د لوبې ښکلي شیان تا ته جوړ کړل، بېرته به مې رنګ کړل، زما د ګردو هیلو او محبتونو په دننه کې زما د زړه او ځان په دننه کې او بالاخره زما د مور د ژوند په دننه دننه کې دې ژوند کاوه. د دغه سپېڅلي پاک او ابدي روح په لمن کې، چې زموږ پر کورنۍ مقدس حکومت کوي، په کلو کلو ته یې وپاللې. د ځوانۍ په ورځو کې چې هر وخت د زړه غوټۍ غوړېدلې، د ګلانو د عطرو په څېر د هغې شاوخوا خورېدلې.

هو! ستا ښکلا او نازکي هماغه څه دي، چې د ځوانۍ په دوران کې د هغې رڼا په څېر چې د لمر څرک نه د ړومبي هسک من ته ښکلا بخښي او د غونچې په څېر یې زما روح او اندامونه وغوړول. ای د آسمان پیسکیه، ای د لمر څرک زریني پلوشې، د ژوند د توفاني سمندر له یوې غاړې یې دې نړۍ ته راوړې او اخر زما د زړه وځنډو ته راورسېدې، څنګه چې ستا وروځو باندې سترګې ګنډم، خو ډېره سرګردانه یم.

هو کې! ته هماغه نه یې، چې زما هستي درڅخه جوړه ده؟ له وېرې داسې رېږدېدم، چې کله دې له لاسه ورنه کړم! نو ټینګ دې رانیسم. څومره بختوره یم، چې د نړۍ دولت، ثروت او هستي یې زما په دې ضعیفو متو کې راکړې ده!

عبدالاکبر خان اکبر د مور د زړه سپېڅلو هڅه کوي، چې خپل ماشوم ته وایي:

د مور امېد د پلار ارمانه
ماته له ټولې دنیا ګرانه
په مونږ دنیا کړه تا ودانه
ګول شمه ستکی له تا قربانه
برکت په تا ټول د اولنو شه
للی للو شه! للی للو شه!

نو د مور د عظمت او درناوي په موخه، دا لیکنه په یو دوو بیتونو پای ته رسوم :

پر تا سلام وایم ای مورې د جهان مورې
فرشتې وایي درته مورې د انسان مورې
ستا محبت مورې زړښت نه لري ځوان پاتې دی
ته به ستایل شې تر هغو چې څو انسان پاتې دی

- "**د پښتون سټه او ځانګې**" د اروابناد قیام الدین خادم رساله ده، چې په دې وروستیو کې د افغانستان د هنر او کلتوري ودې ټولنې له لوري د دویم ځل له پاره چاپ شوې ده. دا رساله چې ۴۷ کاله وړاندې هم چاپ شوې وه، د پښتنو او افغانانو د تاریخ په اړه پر مهمو تاریخي واقعیتونو څرخي.
- "**ورکې هیلې**" د لیکوال او ژورنالست سایر (طاهر) ځلاند د ادبي ټوټو لومړۍ ټولګه ده، چې تازه د افغانستان د هنر او کلتوري ودې ټولنې له لوري چاپ شوې ده. په دغه کتاب کې ټولټال ۲۵ نثرونه ځای شوي دي.

## په بېلابېلو ولایتونو کې پسرلنۍ مشاعرې ترسره شوې

د پسرلي له پیلېدو سره سم، د هېواد په زیاترو برخو کې په بېلابېلو نومونو مشاعرې ترسره کېږي، چې سږکال (۱۳۹۳لمریز) هم دا مشاعرې په یو شمېر ولایتونو کې ترسره شوې، چې په لاندې کرښو کې یې لنډیز وړاندې کېږي :

- په هرات ښار کې "د هریوا په لمن کې" ترسرلیک لاندې پسرلنۍ مشاعره د دې ولایت د مېشتو فرهنګیانو، شاعرانو او د ادب مینه والو له لوري د روان کال د غویي میاشتې په دولسمه نېټه جوړه شوه، چې پر هرات سربېره د کندهار، هلمند، کابل، پکتیا او بادغیس ولایتونو ګڼ شمېر شاعرانو، لیکوالانو او د ادب مینه والو په کې ګډون کړی و. په دې مشاعره کې شاعرانو پر ملي یووالي، د کرکو او بدبینیو په له منځه وړلو او پښتو ژبې ته په خدمت کولو باندې ټینګار وکړ.
- دغه راز د غزني په اندړو ولسوالۍ کې په لومړي ځل د غویي میاشتې په ۱۶مه، پسرلنۍ مشاعره د دې ولایت د "کلیوال ادبي ملګرو ټولنې" له لوري د سلګونو فرهنګیانو، شاعرانو، لیکوالو او عامو وګړو په ګډون ترسره شوه. په دې مشاعره کې شاعرانو او لیکوالو خپل شعرونه، ادبي ټوټې او لیکنې ولوستې او هم په کې ترانې وړاندې شوې، چې زیاتره یې په هېواد کې د سولې ټینګښت او زده کړې ته د ځوانانو د پام وراړولو د مسایلو په اړه وې.
- همدارنګه په فراه ولایت کې دودیزه کلنۍ "عُناب ګل" مشاعره د لسګونو شاعرانو په ګډون د غویي میاشتې په ۱۹مه، ترسره شوه. دغه مشاعره، چې د فراه د "هېواد ادبي مرکه" له لوري جوړه شوې وه، په کې سلګونو فرهنګیانو، شاعرانو، لیکوالانو او نورو عامو وګړو برخه اخیستې وه. په دې مشاعره کې شاعرانو خپل شعرونه ولوستل، چې ډېری یې د ملي یووالي، خپلواکۍ، فساد پر ضد مبارزې، سولې او د نورو ټولنیزو موضوعاتو تر سرلیک لاندې وو. د دې مشاعرې د مسوولینو په وینا، یاده مشاعره هر کال په منظم ډول ترسره کېږي او سږ کال یې اتمه کالیزه ده. "هېواد ادبي مرکه" په ۱۳۸۴ لمریز کال کې تأسیس شوې او اوسمهال ۶۰ غړي لري، د "عناب ګل" کلنۍ مشاعرې ترڅنګ یې پنځه شعري ټولګې چاپ کړي او د "اوښکه" په نوم میاشتنۍ مجله هم لري.

دریيم مخ ←

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.